وړیا

د عوایدو
لوی
ریاست

# ۰۵ لارښود

# پر معاشونو باندې موضوعي مالیه



## سریزه

پر عایداتو باندې مالیاتو قانون کې نوو تعدیلاتو د معاشونو د مالیې تطبیق په څه ډول سره بدل کړی دی. دا رساله ددې بدلونونو په اړه خبرتیا درکوي او له تاسې سره د قانون سره سم د مالیې په وضع ورکړه کې مرسته کوي.

### یادونه

یادوونه: فورمې او لارښودونه د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست څخه په وړیا ډول ترلاسه کیدای شي او همداراز د طی مراحل، ارزیابۍ او د مالیاتو د تحصیل په مهال هیڅ ډول فیس او حق الرحمه نه اخیستل کیږي.

## څوک باید مالیه وضع کړي؟

حکمي او حقیقي (انفرادي) شخصیتونه چې د کال په یوه میاشت کې دوه یا زیات کارکوونکي ولري مکلف دي ترڅو د هغو کارکوونکو له معاشونو څخه چې له ټاکلي حد څخه زیاتیږي (چې دا به وروسته مشخص کړل شي) مالیه وضع کړي (پر عایداتو باندې مالیاتو قانون **۵۸** ماده). حکمي اشخاص عبارت دي له: شرکتونو، سهامي شرکتونو، محدود المسؤلیت شرکتونو، موسسو، نمایندګیو، وزارتونو، او په ملي او محلي کچه نورو دولتي ارګانونو، دولتي تصدیو، ښاروالیو او خیریه نهادونو څخه.

## کوم ډول ورکړې د موضوعي مالیې تابع ګرځي؟

هغه ورکړې چې کارکوونکو ته د هغوی د کار په بدل کې د معاش یا دستمزد په شکل کې ورکول کیږي، د مالیې تابع دي. معاشونه او دستمزدونه متشکل دي له: د خدمتونو د وړاندې کولو په بدل کې اصلي معاش، اضافه کاري، د ګمارونکي لخوا کارکوونکي ته نغدي امتیازات (د ماکول، د موټر کرایه، او داسې نور خو یواځې دې امتیازونو پورې نه محدودیږي) او خدمتونو د وړاندې کولو په بدل کې غیر نغدي ورکړو څخه. د دې په اړه چې کومې ورکړې د موضوعي مالیې تابع کیږي، د لازیاتو معلوماتو لپاره **۵/۲۱۳۸۵/۱۳۸۴** عامه طرزالعمل چې د مالیې وزارت .http://www.ard gov.afwww.mof.gov.af/tax ویب پاڼه کې شتون لري، مراجعه وکړئ.

## څوک د موضوعي مالیې تابع دی؟

ټول میشت او غیر میشت کارکوونکي چې په افغانستان کې کار کوي او معاش یا دستمزد ئې په

یوه میاشت کې له ۵۰۰۰ افغانیو (یا ددې معادل په نورو پیسو) اویا ورځې یا اونۍ ته په پام کولو سره د معاش یا دستمزد یوه برخه او داسې نور (په داسې صورت کې ورکړې چې په میاشتني شکل نه وي) څخه زیات وي، مکلف دي تر څو دا مالیه ورکړي. غیر میشت کارکوونکي له دې مالیې څخه په داسې صورت کې معاف دي چې هغو متبوع هیواد په همدې بڼه افغاني کارکوونکو ته په هغه هیواد کې په همدې شکل معافیت فراهم کړی وي.

د بهرنیو هیوادونو او نړیوالو موسسو میشت او غیر میشت اشخاص د افغانستان د دولت سره د تړونونو او قراردادونو سره سم د خپلو مالیاتي وجایبو په ورکړه باندې مکلف دي.

## څوک کارکوونکی او څوک خپلواک قراردادي دی؟

دا مهمه ده چې د مالیاتي موضوع په موخه کارکوونکي او خپلواک قراردادیان سره توپیر کړل شي. کارکوونکي د معاش د موضوعي مالیې تابع ولې خپلواک قراردادیان ددغې مالیې تابع نه دي خو ددې پر ځای خپلواک قراردادیان د کلنۍ عوایدو د مالیې تابع دي.

د ۱۳۸۷ لمریز کال پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون کې د کارکوونکي او خپلواک قراردادي تعریف ذکر شوی نه دی. ددې پر ځای، دا یو حقیقت دی چې د انفرادي شخص د خدمتونو د وړاندې کولو د ماهیت او شرایطو له مخې تصمیم نیول کیږي نه د قرارداد یا په هغه کې د ذکر شوو شرایطو له مخې. نور عوامل چې په نظر کې نیول شوي عبارت دي له: د کار په طریقه باندې د کنټرول لرلو اندازه، د ورکړو ترتیبات، د کار د ځای انعطاف پذیري، رپوټ ورکونه، د وسایلو او تجهیزاتو چمتو کول، د اړیکو موده او داسې نور.

د مالیاتو د موضوع په موخه د کارکوونکي او خپلواک قراردادي د پیژندلو لپاره ۵/۱۳۸۵ عامه طرزالعمل ته چې د مالیې وزارت په www.mof.gov.af/tax ویب پاڼه یا د عوایدو د لوی ریاست په ویب پاڼه http://www.ard.gov.af کې شتون لري، مراجعه وکړئ.

## چاته میشت او چاته غیر میشت ویل کیږي؟

پر عایداتو باندې مالیاتو د قانون سره سم حقیقي شخص ته هغه مهال د افغانستان میشت ویل کیږي چې (۲ ماده)

۱. د مالي کال په اوږدو کې د هغوی استوګنځی افغانستان وي؛ یا
۲. د مالي کال په اوږدو کې ۱۸۳ ورځې په افغانستان کې وي؛ یا
۳. د افغانستان د دولت کارکوونکی یا مامور وي او د مالي کال په اوږدو کې د دندو د ترسره کولو لپاره بهر ته موظف شوی وي.

په افغانستان کې د مقیمو اشخاصو سراسري عواید (له داخلي سرچینو څخه) د مالیې تابع دي. غیر میشت اشخاص هغه اشخاص دي چې هیڅ یو له پورتنیو شرایطو څخه د هغوی په اړه نه تطبیقیږي. له افغاني سرچینو څخه د غیر میشتو اشخاصو ټول عواید د مالیې وړ دي. له افغاني سرچینو څخه عواید عبارت دي له هغو عوایدو څخه چې په مستقیم شکل په افغانستان کې ترلاسه شوي وي او یا په افغانستان کې د کار د سرته رسونې په وړاندې ورکړل شوي وي.

### لومړی بیلګه:

جو براون یو بریتانوي تبعه دی او اصلي کور یې هملته دی. چې د یوې برتانیوي خیریې موسسې لپاره د کاري ماموریت د سرته رسونې لپاره د

کارکوونکي په توګه د یو کال لپاره کابل ته راغلی. د یادي شوې موسسې او د افغانستان د دولت ترمینځ د کارکوونکو د معافیت په اړه کوم تړون نه دی شوی. یاد شوی شخص خپل معاش په بهرنیو پیسو (استرلنګ پونډ) له خپل متبوع هیواد څخه ترلاسه کوي. د معاش پیسې په مستقیم شکل د هغه برتانوي بانکي حساب ته لیږدول کیږي. خو د هغه معاش د هغو خدمتونو په وړاندې دی چې یاد شوي شخص ئې په افغانستان کې وړاندې کوي پر دې بنسټ دغه عواید افغاني عواید ګڼل کیږي او په افغانستان کې د موضوع مالیې تابع دي.

## دویمه بېلګه:

عبدالله ناصري یو افغان دی چې د دوبی په ښار کې ژوند کوي. یاد شوي شخص درې میاشتې په کابل کې تیرې کړې تر څو هماغې یادې شوې برتانیوي موسسې ته کار وکړي. لکه څرنګه چې د هغه د استوګنې اصلي ځای افغانستان نه دی او په افغانستان کې ئې ۱۸۳ ورځې استوګنه نه ده ترسره کړې او په همدې ترتیب سره د افغانستان د دولت کارکوونکی هم نه دی پر دې بنسټ یاد شوی شخص غیر میشت بلل کیږي. خو د هغه معاش په افغانستان کې د هغه د کار په بدل کې له داخلي افغاني سرچینو څخه دي چې له افغاني سرچینو څخه عوایدو په توګه د مالیې وړ دي. برتانیوي خیریه موسسه مکلفیت لري تر څو د عبدالله له معاش څخه مالیه وضع کړي او د افغانستان دولت ته ئې ورکړي.

## د موضوعي مالیې نورم په څه ډول دی؟

پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون وروستي تعدیلاتو د هر شخص لپاره په میاشت کې ۱۲،۵۰۰ افغانۍ (یا ددې مبلغ یوه برخه د ورځې، اونۍ او داسې نورو ته په کتو سره) معافیت ۵۰۰۰ افغانیو ته راټیټ کړی دی. البته دغه نورم د ۱۳۸۸ لمریز کال د وري له لومړۍ نیټې نافذ دی.

پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون د ۲٪ مالیه هم اضافه کړې ده. دغه مالیه د عایداتو باندې مالیاتو قانون د مندرجو جدولونو د نورمونو څخه په ګټه اخیستنې تطبیقیږي (۴ ماده).

## د میاشتنیو معاشونو محاسبوي جدول په افغانۍ

| عواید زیات له (افغانۍ) | عواید کم له (افغانۍ) | مالیه |
|---|---|---|
| ۰ | ۵۰۰۰ | ٪۰ |
| ۵۰۰۰ | ۱۰۰،۰۰۰ | د ۵۰۰۰ د وضع څخه وروسته ۲٪ |
| ۱۲،۵۰۰ | - | د ۱۲،۵۰۰ د وضع څخه وروسته ۱۵۰+ ٪۱۰ |
| ۱۰۰،۰۰۰ | | د ۱۰۰،۰۰۰ د وضع څخه وروسته ۸۹۰۰+ ٪۲۰ |

هغه کارکوونکي چې معاشونه ئې په میاشتنۍ بڼه نه بلکه په اوونیز، دوه اوونیز او داسې نورو بڼو ورکول کیږي، د مالیې وضع ددې جدولونو پر بنسټ چې د میاشتني جدولونو پر بنسټ ترتیب شوي دي، ترسره کیږي:

## د هغو معاشونو جدول چې په میاشت کې دوه ځله ورکول کیږي په افغانۍ

| عواید بیشتر از (افغانی) | عواید کمتر از (افغانی) | مالیه |
|---|---|---|
| ۰ | ۲۵۰۰ | ٪۰ |
| ۲۵۰۰ | ۲۲۵۰ | د ۲۵۰۰ وضع څخه وروسته ۲٪ |
| ۲۲۵۰ | ۵۰،۰۰۰ | ۷۵+٪۱۰ د ۲۲۵۰ څخه پورته ۷۵+٪۱۰ |
| ۵۰۰۰۰ | | ۴۴۵۰+د ۵۰۰۰۰ څخه پورته مبلغ نه ٪۲۰ |

## د هغو معاشونو جدول چې په هرو دوو اونيو کې ورکول کيږي په افغانۍ

| عواید زیات له (افغانۍ) | عواید کم له (افغانۍ) | مالیه |
|---|---|---|
| ۰ | ۲۳۰۸ | ۰٪ |
| ۲۳۰۸ | ۵۷۶۹ | د ۲۳۰۸ وضع څخه وروسته۲٪ |
| ۵۷۶۹ | ۴۶،۱۵۴ | د ۵۷۶۹ وضع څخه وروسته۶۹+۱۰٪ |
| ۴۶،۱۵۴ | | د ۴۶،۱۵۴ وضع څخه وروسته۴۱۰۸+۲۰٪ |

## د اوونيزو معاشونو محاسبوي جدول په افغانۍ

| عواید زیات له | عواید کم له | مالیه |
|---|---|---|
| (افغانۍ) | (افغانۍ) | |
| ۰ | ۱۱۵۴ | ۰٪ |
| ۱۱۵۴ | ۲۸۸۵ | د ۱۱۵۴ وضع څخه وروسته۲٪ |
| ۲۸۸۵ | ۲۳،۰۷۷ | د ۲۸۸۵ وضع څخه وروسته۳۵+۱۰٪ |
| ۲۳،۰۷۷ | | د ۲۳،۰۷۷ وضع څخه وروسته۲۰۵۴+۲۰٪ |

## د ورځنيزو معاشونو محاسبوي جدول په افغانۍ

| عواید زیات له (افغانۍ) | عواید کم له (افغانۍ) | مالیه |
|---|---|---|
| ۰ | ۱۲۴ | ۰٪ |
| ۱۲۴ | ۴۱۱ | د ۱۲۴ وضع څخه وروسته۲٪ |
| ۴۱۱ | ۳۲۸۸ | د ۴۱۱ وضع څخه وروسته ۵+۱۰٪ |
| ۳۲۸۸ | | د ۳۲۸۸ وضع څخه وروسته ۲۹۳+۲۰٪ |

## پر معاشونو باندې موضوع ماليه څرنګه محاسبه کيږي؟

د ورکړې د مودې د ټاکنې څخه وروسته، د معاشونو ماليه د پورتنيو جدولونو سره سم محاسبه کيږي. د هر کارکوونکي د ماليې د محاسبې لپاره د هغه مجموعي معاش (د ماليې وړ امتيازونو په ګډون) په پام کې نيول کيږي. که چيرې ياد شوی مبلغ له تر ټولو لوړ حد (په مياشت کې ۱۰۰،۰۰۰ افغانۍ، ۵۰،۰۰۰ افغانۍ په ۱۵ ورځو کې او داسې نور) څخه زيات وي، د مناسب جدول له څلورمې ستنې څخه ګټه واخلئ. که چيرې مجموعي معاش (د ماليې وړ امتيازونو په ګډون) په مياشت کې په دوهم لوړ حد (۱۲،۵۰۰ افغانيو په مياشت کې، ۶۲۵۰ په نيمه مياشت کې) څخه زيات وي خو له ترټولو لوړ حد څخه تيرې ونکړي د مناسب جدول له دريمې ستنې څخه ګټه واخلۍ. که چيرې مجموعي معاش (د ماليې وړ امتيازونو په ګډون) د تر ټولو ټيټ حد (۵۰۰۰ افغانۍ په مياشت کې، ۲۵۰۰ افغانۍ په نيمه مياشت کې) څخه زيات خو د دوهم ټيټ حد څخه زيات نه وي د مناسب جدول له دوهمې کرښې څخه ګټه واخلۍ. که چيرې د کارکوونکي معاش او نور امتيازات د تر ټولو ټيټ حد څخه ټيټ وي په دې صورت کې د معاش موضوعي ماليه د تطبيق وړ نه ده.

### ۳ بېلګه:

عبدالله په مياشت کې ۲۰۰۰۰ افغانۍ عايد لري. د هغه د موضوعي ماليې نورم ۹۰۰ افغانۍ ده چې د معاشونو د محاسبې د جدول دريمې ستنې سره سم محاسبه کيږي:

۲۰,۰۰۰-۱۲,۵۰۰ = ۷۵۰۰

۱۰x۷۵۰۰٪(۰,۱) = ۷۵۰

۷۵۰+۱۵۰ = ۹۰۰

### ۴ بېلګه:

جو براون له لومړۍ بېلګې څخه په مياشت کې دوه ځله ۵۵،۰۰۰ افغانۍ لاس ته راوړي. هغه د معاش موضوع ماليه ۵۴۵۰ افغانۍ په مياشت کې دوه ځله د لاندې محاسبې سره سم د په مياشت کې دوه ځله معاشونو له څلورمې ستنې څخه محاسبه کيږي.

۵۵,۰۰۰ - ۵۰,۰۰۰ = ۵۰۰۰
۵۰۰۰ x ۲۰٪ (۰,۲) = ۱۰۰۰
۱۰۰۰ + ۴۴۵۰ = ۵۴۵۰

## څه مهال باید مالیه ورکړل شي؟

ګمارونکې مکلف دی تر څو وضع شوي پیسې د میاشتې له پای څخه تر لسو ورځو پورې دولت ته ورکړي (۲۰ ماده).

**۵ بیلګه:** د "الف" سهامي شرکت چې یو بهرنۍ شرکت دی د خپلو بهرنیو کارکوونکو معاشونه هره دوه اونۍ اجرا کوي. خو د داخلي کارکوونکو معاش په میاشتني شکل ورکول کیږي. یاد شوی شرکت مکلف دی ترڅو مالیات دواړو ګروپونو ته د معاش د ورکړې پر مهال په پام کې ونیسي او په بیلابیلو وختونو کې ئې وضع کړي خو د ورکړې پر مهال یوه تحویلي فورمه چمتو کړي او ټول وضع شوي مالیې د میاشتې په پای کې تر لسو ورځو پورې بانک ته تحویل کړي.

## ۲ بیلګه:

د "ب" بهرنۍ شرکت خپلو بهرنیو کارکوونکو ته په میاشت کې دوه ځله او داخلي کارکوونکو ته په میاشتني شکل معاش ورکوي. دا شرکت هم په میاشت کې یو ځل د ورکړې او د تحویلي فورمې د ارایې مکلفیت لري.

## د معاشونو موضوعي مالیې ریوټ څرنګه ورکول کیږي؟

کلني صورتحساب:
ګمارونکې باید خپل هر یوه کارکوونکي ته د هغه د معاش او مالیې اظهارنامه ورکړي چې په هغې کې باید د ګمارونکي نوم، پته، د ګمارونکي تشخیصیه نمبر، د کارکوونکي نوم، پته، د کارکوونکي د مالیه ورکوونکي د پیژندنې نمبر او د کارکوونکي د معاش یا دستمزد مجموعه او وضع شوي مالیه ښودل شوي وي. د دې اظهارنامې یو نقل د مالیې وزارت ته هم لیږدول کیږي (۲۱ ماده).

ګمارونکې باید د ټولو ورکړل شویو معاشونو او موضوعي مالیو راپور د کال په اوږدو کې وړاندې کړي.

د موضوعي مالیې ریوټ او د بانک تحویلي فورمې:
ګمارونکی باید په مالیاتي کال کې ټولو کارکوونکو ته ورکړل شوي معاشونه او وضع شوې مالیو کلنی لنډ ریوټ ورکړي. (۲۱ ماده).
د معاش د موضوعي مالیې ریوټ او تحویلي فورمه: دا فورمه باید د هغې میاشت په پای کې چې معاش پکې ورکړل شوی دی، په لسو ورځو کې ترتیب او ارایه کړل شي. په دې فورمه کې ټول ورکړل شوي معاشونه او وضع شوي مالیې ریوټ ورکول کیږي. وضع شوي مالیه له دې فورمې سره د افغانستان بانک کې تحویلیږي. په بانک کې د پیسو تحویلي په افغانیو تر سره کیږي (۲۰ ماده).

## د کارکوونکي مسؤلیت څه دی؟

که چیرې یو کارکوونکي یواځې یوه دنده ولري په دې صورت کې هغه مکلف نه دی ترڅو د موضوعي مالیې صورتحساب ارایه کړي.د مالیې وزارت اړوند معلومات د ګمارونکي څخه د کلني لنډ ریوټ په وړاندې کول سره معلومات ترلاسه کوي.
که چیرې کارکوونکې نور عواید (د بلې دندې په شمول، آزاد کار، د سهام ګټه، کرایه او داسې نور چې عواید یواځې دې پورې نه محدودیږي) ولري، یاد شوی شخص باید د انفرادي اشخاصو لپاره پر عایداتو باندې مالیې اظهارنامه ډکه کړي او د ټول کال مالیه ددې سره سم محاسبه کړي. یاد شوی کارکوونکي ته د کال په پای کې د ټولو مالیاتو د سنجش پر مهال د کال په اوږدو کې د وضع شویو هر ډول مالیاتو مجرائي ورکول کیږي (۲۳ ماده).

## ستاسو له کارکوونکو سره د مالیاتو د موضوع طرحه

پر عایداتو باندې د مالیاتو په قانون کې د بدلونونو په راتلو سره په مالیاتي نورمونو کې تغیر راغلی او په دې سره د زیاتو کارکوونکو د موضوعي مالیو په مبلغ کې زیاتوالی راغلی او یو زیات شمیر نور کارکوونکي د نوي موضوعي مالیې تابع شوي دي. اړینه ده ترڅو کارکوونکو ته څرګنده شي چې پرعایداتو باندې مالیات د ګڼ شمیر کلونو لپاره د مالیاتي قوانینو یوه مهمه

برخه ده او د د ۱۳۸۷ لمریز کال پر عایداتو باندي د مالیاتو قانون سره سم پردي باندي پابندي د افغانستان د اوسیدونکو بنسټیز مسؤلیت دی.

که چیري کارکوونکي په ځانګړي توګه د موضوعي مالیي یا پر عایداتو باندي مالیاتو او د ورکړي د ځرنګوالي په اړه پوښتني ولري، مهرباني وکړئ هغوی ته لارښوونه وکړئ تر څو د مالیي وزارت د عوایدو لوی ریاست سره اړیکه ونیسي او حل مطلب وکړي. که چیري تاسي د ګمارونکي نهاد په توګه غواړئ چي د عوایدو لوی ریاست استازی ستاسي د کار ځای ته واستول شي او د کارکوونکو پوښتنو ته ځوابونه او پوهنه ووائي، نو مهرباني وکړئ د عوایدو لوی ریاست یا مستوفیتونو سره اړیکه ټینګه کړئ او د داسي لیدنو فرصتونه چمتو کړئ.

## تطبیقی احکام

پر مالیاتو باندي د عایداتو د مقرراتو څخه د پیروی نه کولو په صورت کي، د مالیي وزارت د اطاعت پذیری د ډاډ لپاره د عایداتو باندي مالیاتو د قانون په چوکاټ کي له اداري احکامو څخه ګټه اخلي. تطبیقي احکام په څوارلسم او شپاړسمو فصلونو کي موجود دي او جریمي او لویي څارنوالی ته د تعقیب په موخه ارجاع په بر کي لري.

## د مالیاتو اړوند مالومات

د عوایدو لوی ریاست اداري او مستوفیتونه مالیه ورکوونکو ته په وړیا توګه فورمي، لارښودونه او لارښووني وړاندي کوي چي دا مواد په چاپ شوي او همداراز له یوه نوي ویب پاڼي http:// www.ard.gov.af څخه د راښکته کیدو ور بڼو ترلاسه کیدای شي. یاده ویب پاڼه د عوایدو د لوی ریاست او مستوفیتونو موقعیتونه، د اړیکو شمیري او کاري ساعتونو په اړه مالومات وړاندي کوي. مالیه ورکوونکي همداراز کولای شي نور ګټور مالومات لکه عامي خبرتیاوي او طرزالعملونه، د معاش د موضوعي مالیي په اړه پوښتني او ځوابونه، د ۱۳۸۷ کال پر عایداتو د مالیاتو قانون، او تعلیماتنامه ترلاسه کړي. یاده تعلیماتنامه د قانون هره ماده او اړوند مقررات په جلا توګه څیړي او د ګټورو بیلګو په لرلو سره مالیه ورکوونکو ته لا ډیره آسانتیا په برخه کوي.

### یادونه

د http://www.ard.gov.af په ویب پاڼه کي د مالیه ورکوونکي اړوند معلوماتو د پاڼي شتون مالیه ورکوونکي ته د ګټورو او اړینو معلوماتو د ترلاسه کولو کار تر ډیر کچه اسانه کړی دی. په دي پاڼه کي مالیه ورکوونکی کولی شي د ۱۳۸۷ لمریز کال پر عایداتو باندي د مالیاتو قانون، بیلابیلي عامه خبرتیاوي، کړنلاري، فورمي، لارښودونه، ارشیف شوي سندونه، د معاش د موضوعي مالیي اړوند پوښتني او ځوابونه او داسي نور معلومات ترلاسه کړي. په دي پاڼه کي همدارنګه پر عایداتو باندي د مالیاتو لارښود کتاب (تعلیماتنامه) هم شتون لري چي په هغي کي د قانون هره ماده او مقررات د ګټورو مثالونو څخه په ګټي اخیستني په جلا توګه تشریح شوي ده.


د افغانستان اسلامی جمهوریت
د مالیی وزارت
د عوایدو لوی ریاست
۱۳۹۰

Islamic Republic of Afghanistan
Ministry of Finance
Afghanistan Revenue Department
1390

جمهوری اسلامی افغانستان
وزارت مالیه
ریاست عمومی عواید
۱۳۹۰

Taxpayer Information Page: www.mof.gov.af/tax